مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

خالق رشید
۲۰۲۱/۱۰/۲۷

# خـــــر خـــبر وا!

## لنډه کیسه

زموږ کليوال محمد آکا دخدای وبښي ، خدايی دي د جنتو سردارکړي ، زموږ دکلي لاس او پښه و. ځکه چې په ټول کلي کې دی يوازنی ځوک و چې دکلي د اړتيا وړ کسبونه دده زده وو، ښه بزګر دی و ، ښه ترکاڼ دی و، ښه موچي دی و، ترټولو مهمه لاداچي دحيواناتو په تيره بيا د خرو په پيژندنه کې زموږ په کلي کې لاڅه چې په ټوله سيمه کې دی بی جوړې ماهر واوهرڅيرې يې نوم لګيده...ان چې څوک به خره اوياهم غوا غويي په لغتو ووهل ، هغوی به هم ده ته راتلل، ده به لاس ماس پرې وواهه ، لړ به يې غوړکړ، بيرته به يې سرى روغ رمټ کورته ليږه . کله کله خو به داسي هم کيدل، چې خره وهلی اويا له خره لويدلی به ده ته دراتلو نه و، بيا به يوڅوک وريسي راتلل ، دی به يې په ډيردرناوې سره بيوه، چې کله به بيرته راغبرګيده ، نو يوڅه غوټه موټه يې به يې هم په لاس کې وه ... زما دانا لويه هيله همداوه چې زه بايد همداسي يو کمال زده کړم، خو بابا به مې پرې وربرګ شو، اودهغې هيله به يې همداسي په خوله کې وروچه کره :

- چپ ښځې، هلکان له کاره مه باسه ، پريږده چې درس ومکتب ووايي ...

په محمد اکا زه په ټول کلي کې ګران وم،زما همزولي په دغه رمزباندې نه پوهيدل ، زه هم نه پوهيدم ، خو ډيرکلونه وروسته چې زما بابا زما منځوی وررور په دم باندې سنت کړ، زخم يې اوبه واخيستې ، خوارکی ډير ورسره وځوريد، پرلاره به چې روان و ، فکربه دې کاوه چې منې يا انار يې په بده وهلي دي،همداوه چې انا به مې ټوله ورځ ښيراوې کولې :

- خدای دې دم ته خير نه ورکوي ، آخ زما لمسي يې را کنډو کپرکړ ... کورګډيه چې نه پوهيدې ويلي به دې وو ، دومره ظلم خو څوک له چا سره نه کوي ... هغه لمسی مې چې سلطون سنت کړ، درې ورځې وروسته يې منډې راته وهلي ، اخ ...

پرمحمد اکا زما د ګرانښت يو لامل همدغه و، وروسته به مې چې په لويې کې کومه لويه خبره وکړه ، اويا به کله ده ته کلانکار ښکاره شوم، نو بيا به يې سترګي راته کش کړې او راته موسکی به شو :

- بچيه زما په وړاندې به ځان کلانکار کلانکار نه کوې اوکه نه بيا دې کيسه نورو ماشوما نو ته کوم ...

خوماږه په سپين سترګی سره پوښتنه ترې وکړه :

-دڅه شي کيسه ؟

- ويې کړم ... ژاړې خوبه نه ؟

زما همزولي به ټول وارخطا شول او ما به هم ځان آرام ونيو، خو دی به بيا راته موسکی شو :

- مه وارخطا کيږه ... هغه خبره زما سره ده ... چا ته يې نه وايم ...

ربنتيا زه به ټوله ورځ له ده سره ناست وم ، کله کله خو به مې ډوډی هم له ده سره خوړه ، لکه چې يوځل مې کشرې تره ، په دغه کار ښه ووهلم چې ګواکې زه دکورنی رنګ بدوم ، پردې ډوډی خورم ... خو کله چې محمد اکا پرې خبرشو، هغه يې سخت کنځلی او ګوابنلي يې و چې نور بايد زما اونوروماشومانوپه وړاندې داسي چلند ونه کړي ...

کا کا لکه چې ياده مې کړه ، زموږ په کلي کې بی جوړی څوک و، په مياشت دوو کې به يې خر په لرګيو بارکړاوغزني ته به ته ، چې له غزنی به راغي ، نو پتاسې او دحکيم سنايی او شمس ګرندي بندونه او خوردي به

يي خامخا له ځان سره راوړي او پرموړ به يي ويشلي... زما ښه په ياد دي کله به چي دی غزني ته روانيده او چا به پوښتنه تري وکړه چي چيري په خير ؟
ده به غاړه تازه کړه او تر خوله به يي يونا ځاپه ورته راووتل :
ـ محمد اکا روان ديه زيارت د سنايی ته ځي
سيل د غزني ته ځي ...
داکا داشعر ډيراوړد و ، د وزن او خوند په خاطر به يي د ( شمس ګرندي ته ځي ، پيازاو ګندني ته ځي ) قافيي او رديفونه ور اچول او پوښتونکی به تري روان شو ...
زموږ دلويي کلا پيتاوی به ژمي اوړی په بنداړو ستړی و، موږ چي واړه وو، نود ځوانانو او زړو خبرو ته به مو هلته يوازي غوږ نيوه اوهغه به مي اوريدي... هلته نو يوه خبره او يوه موضوع نه وه ، هر ه ورځ به هرچا هلته نوي نوي اوريدي . يوه ورځ موږ ټول ناست وو، چي زموږ دملاصاحب زوی چي نوی يي په درس ويلو پيل کړی و، دجومات دبام پرڅنډه ناست و، کتاب يي په لاس کي،زموږ خبري او مسخري يي يوه يوه اوريدي ، په همدغو خبرو خبرو کي د محمد اکا خر له کومي خوا راغی ، ډيرآرام را روان و، چي يو ناڅاپه يي خپل پوز دملاصاحب د زوی خواته ورکوږ کړ، اوهغه ته مخامخ ودريد، هغه ته يي په ځيرځير وکتل،دغه حالت زموږ ټولو پام هم هغه ته ور واړاوه ، دملاصاحب زوی خو له موږ سره په کلي لوی شوی و،ځکه نو دخره په کټوسره له هرې خوا دخبرواو کنايو ګوزارونه ورباندي پيل شول :
يوه له يوي خوا پرې را ناري کړي :
ـ ملاجانه اوس ورته ټينګ شه ...
بل به ويل :
ـ خامخا يي څه درکي ليدلي دي ...
بل به ويل :
ـ نه څه تري غواړي ...
بله بيا لړ په زوره وويل :
ـ له ملا نه به څه وغواړی پرته له دعا ...
او وروستي به ويل :
ـ پرون يي له ژرندي درونډ وربانديي بارکړي و ترې خواشينی دی ...
دغو خبرو ته ورته يودرجن نوري هم پرملاکي باندي له هري خوا راتلي او لګيدي چي ټولو به ورته خندل او بس، زموږ په کليوالو کي يوازي چيچک ماما چي دکليوالوپه وينا نيم ترمځکه لاندي واو نيم هم دباندي ، هغه به په خبرو کي خبري را ايستي،داسي ټکي ته به يي پام وچي د شيطان هم فکر نه ورته رسيده،په دغه ورځ هم ده دکلاپيتاوي کي ديوال ته ډډه ورکړي وه ، کله چي د ټولو خبري او مسخري پای ته ورسيدي ، بيا يي په خپله لنګوټه لاس وواهه ، نصوار يي تف کړل ، او يو جدي غږ يي تر خولي راووت :
-تاسوخو له هرڅه ټوکي مسخري جوړوئ ، خو داخبره دومره ساده مه ګڼی، ملاکي ته دخره داډول دريدل، ددغي زماني يوه معجزه ده ، داسمه ده چي موږ او تاسي له خره سره جفا کوواو تر پام مونه راخي ، مګر خبره دومره هم ساده اوبابيزه مه ګڼی، دعيسي عليه سلام خرهم نوم لري ، د دجال خره په خپل ځای کي خپل بدنوم درلود ، دمحمد اکا خرهم دهغو له ذاته دی... ورشئ کليوال راټول کړئ چي دا حال وګوري ، اوهرڅوک خپله خپله خبره په دغه اړه وکړي ، نه چي خدای مه کړي کومه خبره ونه شي ، دا زمانه هسي هم دومره په پوست پاکه زمانه نه ده ، بايد ټول سره خبرشي چي خدای مه کړي سبا کلی ته کوم زيان او کومه بدمرغي مخه را ونه کړي ...
چيچک ماما دخلکو او کليوالو پام له ټوکو او مسخرو ګردسره پربله خوا کړ،څه کليوال چي په جومات کي ول ، هغوی هم دغي ننداري ته راووتل ، او څوک چي په کورونو کي وو،هغوی يي هم راوبلل :
هلئ راشئ هلئ راشئ ....
کليوالوټولو اوس دلويي کلا مخي ته دخره دغي ننداري ته کتل چي ملاکي ته مخامخ په حيرانتيا سره ولاړو،چي کله يي سرورته وښوراوه او کله به يي لنډکی انګ ورته وواهه ...
په څوشيبو کي دخره خبره په ټول کلی کي خپره شوه ، ښځي ما شومان ، واړه زاړه ، ټول را ووتل ، خره چي دا ګڼه ګونه وليده ، نويي خپل مخ او سر سره وښندل او دمحمد اکا دکور پرخوا کرار کرار داسي چي ګواکي هيڅ هم نه دي شوي خرامان خرامان روان شواو ولاړ ...
دخره له روانيدو سره خبره نوره هم توده شوه ، چيچک ماما خو يوازي پيل وکړ، يو بل نصوار يي هم خولي ته ورخطا کړاو کرار کيناست ، دغونړو لويانو ته خدای ورکړه، دوی ترهغه هم داخبره جدی ونيوه لکه چي يوه په جدی ژبه راغږ کړ :
ـ زمانه اخره شوي ، انسانان ټول نفساني او مادي شوي ، تردوی حيوانات هم ښه دي ...
بل وويل :


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ

ـ  هرڅه چې دي ، هره بلا چې ده پرکلي ده ، بايد چې خيراتونه وکړو اوعبادتونه ...
بل بيا ويل :
ـ خبره ټوله په ملاګی کې ده که څه يې کړي وي او يايې کوي بايد موږ پرې خبروو ...
خو اکا بيا خپله خبره په خپله اندازکې وکړه :
ـ خر خبر دی ، ماناداچې زما دخره دنني عمل ترشا خامخا کوم خبر شته،خوداچې څه به وی ، په دي يو الله پاک پوهيږی ... خو هرڅه چې دی ، ښه دي اوکه بد زه باورلرم چې په ملاګي کې دي ، هو ، په ملاګی کې ...
دخره او ملاګي له ننی حيرانۍ ښخه په هغه ورځ څه پايله راونه وته، خو خبره لاهمداسې توده وه ، زموږ دکلي خوهمداسې دود و چې يوه وړه خبره به يې پيداکړه ، نو بيا به يې دومره سره اړوله را اړوله چې څو به يې يا سره مرداره کړه او يابه يې دومره سره کش راکش کړه ، چې په دښمنوبه يې پای ته ور رسوله ، دخره اوملاګي خبره هم له يوې دوو مياشتو زياته موده زموږ په کلي کې توده پاتې نه شوه،دوی مياشتې لانه وې پوره شوې چې د محمد اکا خر يوه شپه دژمي په ځله کې دباندې پاتې شوې و، کله چې سبا اکا دغوجلې دروازه خلاصه کړه ، نورمالونه تر ې راووتل خو دخره پته ونه لګيده . درنګ شيبه ورته ودريد ، بيا هم راونه ووت ورته په قهرشو :
ـ دا ديوس په دي ورځو کې ځان بزرګ بزرګ کوی ، نه پوهيږم چې بيايی څه په زړه ورګرځيدلي ، ورپسې ننووت ، ځراغ يې ورپسې ولګاوه ، خو په غوجل کې يې خپل خر ونه موند ...
زړه يې نورهم سره و درزيد او په څوشيبو کې يې ډول ډول خبرې په فکرکې لاړې راغلې... لايې نور مالونه ځای ته نه وو رسولي چې کوم کليوال ماشوم غږ پرې وکړ :
ـ  اکا اکا خر مو هلته ... هلته دکلا ځنګ ته ...
ـ هلته څه پرې شوې ؟
ـ وايی چې هلته لکه چې ...
دماشوم نيمو نيمګورو خبرو يې لاپر زړه غله ورګډ کړل ، نوريې هغه هم ونه پوښتيده ، اومخامخ يې دکلا ځنګ ته ځان ورساوه ، له لرې يې وليد چې پرخره يې دکلي سپې راټول شوی او ترانګی ترانګی يوې او بلې خواته پروت دی ... کليوال پرې خبر شول خومرګ يې هم ټولوته يوه حيراني ښکاريده په تيره بيا داخبره چې د اکا خر بې څه نه دی ... ځکه نو دوی ته داهم چې ګواکی د سلطان محمد اکا خر ليوانو سوړي بوړې کړی د منلو وړ نه وه ،خو وروسته ټولو ومنله چې هغه تيره شپه دباندې پاتې شوی و او ليوانوبی زړه سوي غوټې پرې کړې وې او اکا يې نور ترې بې غمه کړی و... ځکه خو به يوه يوه لاداهم ويل چې اوس به سلطان محمد اکا دچا په ځواب کې ځنګه وايي :
-محمد اکا روان ديه زيارت د سنايی ته ځي
سيل د غزني ته ځي ...
خواکا بيا خپله خبره درلوده ځکه يې يوځل کليوالو ته مخ ور واړاوه :
ـ داټول دکليوالو له لاسه دي ، له خره يې آسمان جوړکړ، دومره يې وپړساوه چې ما هم فکرکاوه ، خر نه دي خبردی ، زما پام يې هم ترې پربله خوا کړ ځکه ټولو به راته ويل چې خردي بې څه نه دی ...
آکا دخپل خره له مړزګی سپي وشړل ، هغه تلکونه چې ده به تل دليوانواو ګيدړانو لپاره ايښودل راوړل او دخپل خره ترپاتې شونو يې تاو راتاو کيښودل اودليل يی هم داو چې که کوم ليوه او يا ګيدړ په کې ونښلي ، دهغه پوست خر څ کړي ، څو لږ ترلږه يوبل خر مر يې په پيسو راو نيسې ... تر تياره ماښامه يې سپې ترې وشړل ، له ماښامه وروسته هسې هم زموږ دکلا دروازه بنديده او دسپيو لپاره هم دوتلو لاره نه وه ...
په هغه شپه ترسهاره پورې زموږ کليوالو دسپيو له غپاري خوب ونه کړ، موږ په دي پوهيدو، په کومه شپه به چې زموږ دکلي سپي نارامه ول ، دهغو ماناداوه چې ياخو ليوان کلي ته ځرمه راغلي او يا هم دغلو دکومې داړې ګوزر پردغه خوا دی ...محمد اکا هم په دغه شپه ترسهاره خوب ونه کړ، په دی هيله و چې که يو ليوه هم دده په تلک کې را ګيرشی ، نو د دوو خرو بيه ترې جوړيږي .
لا چرګ بانګ نه و شوی چې اکا ځان خپل جيم ته ورساوه ، لا نژدې نه و ورغلی چې ويې ليدل دری لوی لوی سره ليوان يې په تلکوکې نښتې دي ، په بيړه بيړه بيرته کلي ته راغبرګ شو، او پرکليوالو يې چغه ګډه کړه ، ټول کليوال څوک له سوټيو ، څوک له ټوپکو او تورو سره د جيم پرلور سرلوڅې او پښې لوڅې ورځيږه شول ، پردريو ليوانو باندې يې روڼ سهارتور تورتم کړ، چا په تيږو ويشتل او چا په لرګيو او سوټيو وهل څوپه وهلووهلوله اخ توخه ولويږي... يوه جالبه صحنه وه ، دليوانو داړې هم داسې چينکی وې چې که په دام کې نه وای نښتې ، نو بيا خو به دوی هم خپل کارکړی وای ، بس همدغه توره خره روانه وه ، په همدغه توره خړه کې ملاګي هم دجومات له دهليزه اوږد لرګی رااخيستی و، په يوه ليوه باندې ده هم پرله پسې ګوزارونه کول،همدغه حالت روان و،هيڅوک پوه نه شول چې يو ليوه په څه شان له تلکه راخطا شو ، په ډيرقهراوځوښ کې يې پرملاګی باندې ورغوټه کړه ، له همدغې يوې غوټې سره يې دهغه نيمه ګيډه له ځان سره يوړه... ليوه لکه غشې دخلکو له منځه ووت او له مرګه بچ شو ، خو دوو نورو يې د خلکو دسوټيو ترګوزارونو لاندې ساوې ورکړې ...


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ليوان پرخپل ځای پاتي شول ، کليوالو ټولو ملاکی ځنځولی کلي ته ورساوه ، څو شيبي ژوندی و ، داچي نيمه خيته يي ليوه وړي وه ، نوره نو دده لپاره د ژوندي پاتي کيدو شيبه نه وه پاتي ، مخکي تردې چي لمر راوخيژي ، او مخکي تر دی چي خلک دسهار لمونځونه وکړي ، ملاکي نور له نړی څخه خدای پاماني کړی و، پلاريي مولوي صاحب موده مخکي له ملکه دباندي تللی و، يوازې په دې ورځو کي يي ليک چا راوړی و چي له خپلوچړيانوسره به ډيرزر کلي ته راورسيږي ...

محمد اکا ته يي خره بله دبنمني هم وردغاړي کړه ، په دغه ټوله کيسه ټول کليوال حق حيران شوي وو، ځکه چي زموږ دکلي په تاريخ کي چا داسي تصادف او داسي پيښه کله هم نه وه اوريدلې ، ټول هک پک وو، هيچا په دغه اړه هيڅ هم نه ويل ، ځکه چي د خره ، اوملاکي پيښي ، ليوانواودغو ټولوخبرو ټول ګنګس کړي وو . ترټولو مهمه لا داوه چي د کلي لوی ملا صاحب چي موږ به مولوی صاحب باله هغه هم په دغو ورځوکي کلي ته را روان و... هغه هم په يوه بل شور او شرنګ کي ... کليوال اوس ترهرڅه زيات دهغه پريکړي ته انديښمن وو، يو شمير که بي ګناه هم ول ، له دی څخه ډاريدل چي دوی يي دقهر قرباني نه شي،ځکه هغه دخپل زوی له مرګه وروسته يو ګونګه جمله د محمد اکا په پته رااليرلي وه او هغه دا وه چي تلکونه دي له هم هغه ځايه چي ليوانوته دي ايښي وو لرې نه کړی... له دغه ټکي څخه خلکو بيلابيل تعبيرونه کول ، چا به ويل چي لوی مولوي صاحب په نظرکي لري چي محمد اکا دهغه په خپلو تلکونو لومړي بند کړي داسي چي هم هلته يي دمه په کي وخيږي او دده زړه پرې يخ شي ...

همداسي نورچا به هم کله دا اوکله هغه سره ويل ... ؟

پسرلی نوی را برشوي و،هواهم لږ لږمخ په توديدو وه،موږ له کلي مهاجرشو، ځکه دغي پيښي موږ سخت ډارکړي وو،غزنی ته لاړو،هلته مو ځان له کلي پريوه خواکي ونيو، بدې ورځي مو تيرولي چي يوه ورځ کليوالو خبر راوړ چي مولوی د کوزنيو ملکو له ببرسرو يارانو سره را وختو او کلي ته راورسيد ..لکه چي موږ فکرکاوه همداسي يي وکړل،لومړي يي سلطان محمد اکا په خپل تلک کي څو ورځي بند اووځوراوه ... څوورځي يي ورې ی تږي په سختو سړوکي واچاوه... له هغه وروسته معلومه نه شوه چي هغه څنګه شو؟ دی هم ليوانو وخوړاو که نورڅه پرې وشول ؟

زموږ کليوال ټول له کلي يو يو وتښتيدل،کلي مولوی صاحب ته پاتي شوچي له نا آشناچړيانوسره په کي اوسيده ... يو آذان هم نه قضا کيده ، پولمونځ هم بي جمعی نه و ، خو دريغه چي زموږ يوه کليوال هم بيا زموږپرمولوی صاحب پسي يوه ورځ هم نيت ونه تاړه ...

**او زموږ لوی کلي دمحمد اکا دخره ديوه ناسم تعبيراوبي مانا اکټ په خاطر د پيری قرباني شو ...؟؟؟؟؟؟**

پای

خالق رشيد

نوی ډيلی ۱۹۹۶



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ